# د ټي ټي پي د تلفاتو زیاتوالی- ترهګر له سختې اضطراب سره مخ دي

په تیرو څو هفتو کې په وزیرستان، بنو، لکی مروت، ټانک، باجوړ، مردان او صوابۍ کې د تحریک طالبان پاکستان په غټه شمیره کې ترهګر وژل شوي او ګڼ شمیر ترهګر نیول شوي دي۔ دغو وژنو او نیولو په ټي ټي پي کې سخته اندیښنه راپارولې ده او د خلکو نه دعا ګانو او د قرآن خوانیې غوښتنه کوي۔

## د ټي ټي پي په لیکو کې د ناکراریو او مخ په زیاتیدونکي مایوسۍ اصلي محرکات دا دي:

- د ټي ټي پي مشرتابه په افغانستان کې د عیش او عشرت ژوند کوي، په داسې حال کې چې د افغان اتباعو په ګډون ځوان هلکان په تشکیلاتو کې د وژلو لپاره لیږل کیږي
- تر اوسه د ټي ټي پي نه کوم لوی مشر په تشکیلاتو کې د جګړې لپاره راغلی او نه هم د کوم لوی مشر زوی ځان وژنه کړې ده۔
- ټي ټي پي د جهاد په نوم تنکي ماشومان ګمراه کوي چې ځانمرګي بریدونه وکړي یا جنسي تیري پرے کوي۔
- د ټي ټي پي مشرتابه په غیر اخلاقي فعالیتونو کې ښکیل دی۔ قومندان حمیدالله عرف ګوهر د جهاد په نوم فاحشیې آده پرانستی ده او پر تنکیو هلکانو یې جنسي تېری کوي۔

د دې حقایقو په رڼا کې دا د هر هوښیار او د کور د مشر دنده ده چې په دې خبرو نظر وساتي چې تحریک طالبان پاکستان د جهاد په نوم ستاسو کوم عزیز او خپلوان ګمراه نه کړي او یا یې د جهاد په نوم ونه د بربادیې په لار خو نه بوزي یا خو پرے جنسي تیري نه کیږي ځکه چې د دې خوارجو له منځه وړل زموږ د ټولو ګډ مسؤلیت دی۔